سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۷/۱۰

# عبـادت!!

خلاصي ميخاني کړي، عبادت د خپل محبوب وکړی
پيل مـو تـرانــي کړي، عبادت د خپل محبوب وکړی

ځنګ پـه ځنګ طواف ته شي، د مینی د کوتی روان
بندی جیلخاني کـړي، عبادت د خپل محبوب وکړی

و ولـئ « **دجـــال** » په کنـدولو، د محبت بـانـدی
ماتـی زولانــي کړي، عبادت د خپل محبوب وکړی

غږ وکړی عیسی (ع) ته، چی را ښکته له اسمانه شی
مـســتـي زمانی کړی، عبادت د خپل محبوب وکړی

چـاتـه هم ور نکړي مشوره ، چی مـیـنـه جـرم دی
ډکــي پـيمـاني کړي، عبادت د خـپل محبوب وګړی

واچوی په خوله کی، د زاهد د مـلُـو ځو ښـاځـکی
تـولي نـذراني کړي، عبادت د خـپل محبوب وکـړی

پریـدی کلیوال چی، ژونـد په خپـله خوښه و کانـدی
جوړي يارانـي کړي، عبادت د خپل محبوب وکړی

دیسمبر/۲۰۱۷/۱۹
تورنتو ــ کانادا



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com